


# ميرا او اميرا

سید گران آغا کتابتون

# میرا او امیرا

لیکوال نیمي چاکو　　　　مترجم سلیمان شاه سلطاني

---

دا کتاب له ۴ کلنۍ څخه تر ۹ کلنۍ پوري کوچنیانو ته وواياست

---

کتاب میرا او امیرا
لیکوال نیمي چاکو
مترجم سلیمان شاه سلطاني
د کمپیوټر او ویب سایټ چاري روح الله لمر
ډیزاین محیب الله رسولي
خپرندوی سیدگران آغا کتابتون
www.aghalibrary.com

زه او میرا ډیر ښه ملګري یو
میرا ماته تر ټوله نړۍ ګرانه ده.
آیا پوهیږي ولې؟
په دې خاطر چي په ټوله نړۍ کي یوازې میرا ده چي ما لیدلای سي.



www.aghalibrary.com

د هغې چي هر شی خوښ سي هغه شی زما هم خوښيږي.
او کله چي بیا زما یو شی خوښ سي نو د هغې هم خوښيږي.
زموږ نومونه هم یو بل ته ورته دي
میرا او امیرا


www.aghalibrary.com

کله چي ماته یو څه پیښ سي میرا ته هم یو شی نه یو شی پېښیږي.
هغه بله ورځ میرا داسي مایوسه ناسته وه چي مه کوه خبري ما پوښتنه
ځیني وکړل چي څه پېښ سوه؟ هغې جواب راکړئ ویل یې زما یو بل غاښ
هم وختئ.ما ورته وویل پروا نه کوي یو کړی مخکي بیا زما د بدن څخه یوه
بُڼکه وختل






کله کله بیا زموږ کارونه سره جلا وي.
میرا ستونزي جوړي کړي او بیا نو زه هغه ټولي ستونزي
د زړه په خوږو حلوم.

لکه هغه بله ورځ میرا یو دم په ژړا سوه
ما پوښتنه ځیني وکړه.
میرا ولي ژاړې؟ میرا خپلي اوښکي پاکولې په ژړا یې راته وویل اوس
خو باران شروع دئ، نو موږ به څنګه د کور د باندي لوبي وکړو؟



زما فکر ته یو نظر راغلئ.
دستي مي میرا ته وویل، ته درځه دباندي ماته د ساتېري ډېري لاري
را معلومي دي. کرار مو د کاغذ کښتۍ جوړه کړل او د باران په اوبو کي
مو روانه کړه د میرا ډېر سات تېر سو.


www.aghalibrary.com



www.aghalibrary.com



یوه ورځ میرا راته وویل ما خو مکتب شروع کړئ. ما چي میرا ته وکتل هغه ډیره خوابدې معلومېدل، ما پوښتنه ځیني وکړل؟ میرا اوس خو دي مکتب شروع کړي، نوولي داسي خوابدې يې؟ میرا راته وویل دا که په مکتب کي نورو کوچنیانو زما سره ناسته ولاړه نه کول او زما د ملګرتیا بلنه يې نه منل نو بیا به زه څه کوم؟ ما ورته وویل ته خو ډیره مینه ناکه او هوښیاره يې ځنګه چي دي زه د ځان ملګرې کړم هغسي نور ملګري هم پیدا کولای سې.


www.aghalibrary.com


میرا وائي اوس نو زما نوبت دئ زه به خپله کیسه درته وکم
امیرا ماته ترټوله نړۍ ګرانه ده. آیا پوهیږي ولې؟هر کله چي زه خوابدې
یم، یا مي یو شي ته زړه نه کیږي نو امیرا خپل ټول کارونه پریږدي او زما
د ساتېري د پاره لوبي راسره شروع کړي.یو ګړی چي لوبي سره وکړو نو زما
هم پام په بله سي او ډېره خوشحاله سم.

امیرا ما هیڅکه جنګ ته نه پرېږدي.زه هیڅکله د چا سره جنګ نه کوم.
خو کله چي زما د مکتب نور کوچنیان زما سره جنګ شروع کړي
نو امیرا ما یوازي جنګ ته نه ورپرېږدي.امیرا خوارکۍ زما سره ډېره
مرسته نه سي کولای خو ما یوازي هم نه پرېږدي.هغه ډېره کمزورې ده خو
بېخي ډېره غیرتي ده.








امیرا د هر مشکل څخه یوه خوندوره خاطره جوړوي.
هغه بله ورځ زه او امیرا دواړه په یوه جلبۍ کې بند پاته سوو
زه ډیره وارخطاء سوم.
زه حیرانه وم چې اوس به خپل ځانونه څنګه ددغه جلبۍ څخه دباندي باسو؟
امیرا په خندا سول ویل یې ته ولې هر ځل داسې ژر وارخطاء سې؟
ماته ددې جلبۍ څخه د وتلو لاره را معلومه ده راځه دا جلبۍ به کرار کرار وخورو.
چې دا جلبۍ خلاصه سي زموږ د وتلو لار په خپله پیدا کیږي.
موږ ټوله جلبۍ وخوړل او ځانونه مو را خلاص کړل.

موږ یو د بل سره ډیر خوشحاله یو

د امیرا خبره بیخي سمه ده
موږ یو د بل ټینګ ملګري یو



# پای

# سید ګران آغا کتابتون

د سید ګران آغا (انلاین) کتابتون دا ویاړ لري چي د نړۍ په ګوټ ګوټ کي زرګونو پښتنو، افغانانو ته په وړیا شکل یې زرګونه کتابونه ډالۍ کړي.
نن سبا که وګورو دننه په افغانستان کي ډیر داسي خلک سته چي له کتاب سره زیاته مینه لري خو په اقتصادي بڼه د رانیولو توانائي یې نه لري او ځوک چي له افغانستان څخه دباندي اوسیږي هغوي په فزیکي شکل کتاب نسي تر لاسه کولای نو ځکه موږ دا کتابتون چي زموږ د خدای بخښلي بابا
(سید ګران آغا) په نوم دی، جوړ کړئ. چي ټول خدمات یې په وړیا شکل دي.
پدې کتابتون کي دیني، طبي، ټولنیز، ارواپوهنه، تعلیمي، ساینس او ټکنالوجي، زرعت، انجینري او د نورو بېلابېلو برخو سلګونه او زرګونه کتابونه وجود لري. چي الحمدالله اوس مهال توانېدلی چي هره ورځ د هیواد دننه او دباندي سلګونه او زرګونه کتابونه ځیني کښته کیږي او لوستونکي یې لولي.
تاسي کولای سئ چي له لاندنی انټرنیټي پټي څخه زرګونه کتابونه په وړیا شکل کښته کړي.
www.aghalibrary.com
د لوئ الله ﷻ له دربار څخه زموږ بابا ته فردوس جنت غواړو.
په درنښت

د سید ګران آغا کتابتون اداره




# د روښانه افغانستان په تمه

مطالعه د انسان په ژوند کي د مثبت بدلون ضمانت کوي او تل مطالعه کوونکي ته د انساني نړۍ د تیرو کړنو او لاسته راوړنو نمایندګي په غاړه لري کتاب او مطالعه د انسان لپاره سالم مصروفیت بلل کیږي،او له ډیرو بیځایه کړنو څخه ی په امن کي ساتي.

له دینوي ګټو سره سره اخیروي ګټي هم لري، لکه خپل علم او د معلوماتو ذخیره تر نورو اسلام لاري ته سوق کول.

**خپلو کوچنیانو ته له ماشوم توب څخه کتاب لوستل پیل کړئ**

که چیري کوچینان له کوچینوالي څخه په لوستلو عادت کړو نو نه یوازي چي دا کوچنیان به سمي خوا ته روان سوي وي بلکې سلګونه او زرګون نوري ګټي به هم ولري. نن سبا د ټیکنالوجۍ او انټرنیټ وخت دئ موږ تاسي په خپلو کورنو، ټولنه او خایونو کي ګورو چي کوچنیان په تیلفون یا ګیمونو په لاسي لاس عادت کیږي.

**کوچنیانو ته د کتاب لوستلو څیني ګټي**

دوی به مسلکي چلند کوي. دښه او بد ترمنځ به توپیر کولای سي.
فکري او دماغي توازون ډیر ښه ساتي. د خپل ژوند په ارزښت پوهیداسي.